# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| | |
|---|---|
| Ideological | مسائل ایدئولوژیک |



دعبدالحّی حبیبی په اهتمام
ژباړونکی: درویش وردگ
۱۱ جنوری ۲۰۱۸


## السَّوادُ الاعظم- ۲

**پښتوترجمه**

**تألیف: ابوالقاسم اسحاق بن محمّد بن اسماعیل بن ابراهیم بن زید حکیم سمرقندی**

**د ۳۷۰ هجری کال په شاه اوخوا دامیرنوح سامانی په فرمان فارسی ته ترجمه شوی**

اوکه څوک دمذهب په هکله خبری کوی، نو دی کتاب ته یی وړاندی کړی! که ورسره سم و، نو ویی منی اوکه ورسره سم نه و، نو پریږدی، ترڅو هلاک نشی! اوچی هرڅه واوری نو دخدای کتاب سره ورته سمون ورکړی! اودرسول الله صلی الله علیه وسلم دسنتوسره. که ریښتینی راووت نوراویی نیسی!اوکه خلاف راووت نو ایله یی کړی! اوپخپل دین وډارشی، ترڅو حق تعالی تاسوسمی لاری ته برابر کړی په خپل فضل اورحمت سره.

که څوک وپوښتی چی توحید څه دی؟ ووایه: توحید په یووالی سره دخدای ګڼل دی.

اوکه پوښتنه وکړی چی معرفت څه دی؟ ووایه دخدای عزّوجلّ پیژندل دی.

که وپوښتنی چی ایمان څه دی؟ ووایه : په ژبه اقرارکول دی په خدای عزّوجلّ ، په پیغمبرانوصلوات الله علیهم اوپه ملائکو اودخدای په کتابونو اودقیامت په ورځ دزړه په اخلاص سره. اوهرهغه چی په ژبه اقرار وکړی اوپه زړه کی اخلاص ونلری منافق دی.

که سوال وکړی چی اسلام څه دی؟ ووایه : ایمان اوسلام دواړه یودی. مومن مسلمان دی اومسلمان مومن دی.

اوکه پوښتنه وکړی چی ته څوک یی؟ ووایه :په ژوند اومرګ کی دخدای تعالی بنده. اوکه سوال وکړی چی ستا خدای څوک دی؟ ووایه زما خدای هغه خدای دی چی ټول مخلوق یی پیداکړی اودټولو ژویو روزی ورکوونکی دی، همداسی چی په پیداکولو یی ځواکمن دی په روزی ورکولو هم . اودانا دی په ټول مخلوق باندی چی پیدایی کړل اوپیداکوی اوپه ټولو خوځیدونکوچی هرځای ځی اوراځی. اوزور اوځواک یی نقصان اوزورنه مومی. قوله تعالی: وَقدرَ فِیهَا اَقْواتَها فِی اَربَعَةِ آیامٍ سَوَاءً لِلسَّائِلِین. اودمخلوقاتو روزی مو وویشله ددوی له پیدایښت څخه څلور زره کاله مخکی.

اوکه وپوښتل شی چی خدای تعالی پیژنی؟ ووایه چی عزّوجلّ خدای یودی، بی چونه اوبی څرنګوالی یی پیژنم. اوهغه لره شریک نشته. هغه خلکو ته ندی ورته، اوخلق ده ته ندی ورته، هغه له چاڅخه ندی زیږیدلی اونه څوک له هغه زیږیدلی: لَم یَلِد وَلَم یُولَد. دی.

اوهغه دکون اومکان پیداکوونکی دی اوهغه مکان ته حاجت نلری،له عرشه پورته مکان نشته اوله هغه څخه بیا تر تری حق تعالی لره مکان نشته. یو دی نه دیوه پشان اونه یوه ته ورته اونه هم یو ده ته ورته. ټول په ده سره پیژندل کیږی اودی په هیڅا نه پیژندل کیږی.

هریوپه شمیرسره یو دی اودی بی شمیره یودی. هریوپه آلاتو سره شنوا ،بینا اوګویا دی ، اودی بی وسیلی شنوا ګویا اوبینا دی.

ټول دانایان دده په ورکړل شوی علم سره دانا دی، اودی خپله تل دانا دی، تل دی. لَیسَ کَمِثلِهِ شَیئٌ وَهُوَ السَّمِیعُ البَصیر. اومحمّد علیه الصلوة ولسلام دخدای بنده اورسول دی.اودآدم علیه السلام له اولادی څخه دی.اوهرڅه چی جبرئیل علیه السلام دخدای له لوری محمّد صلی الله علیه وسلم ته راوړی په ټوله سره ریښتیا دی، حق دی ومی منل اوفرمان برداره یم.

اوله پیغمبر علیه الصلوة والسلام څخه وروسته حضرت ابوبکررضی الله عنه ترټولو فاضلتردی، بیا عمر، بیا عثمان اوبیا علی رضی الله عنهم دی.اوهرڅوک چی دپیغمبرصلی الله علیه وسلم یاران دښمن وبولی اوښکنځل ورته وکړی، دخدای عزّوجلّ په لعنت کی دی وی.

نودبدعتونو اوهواوو پیژندل واجب دی. ځکه چی رسول صلی الله علیه وسلم ویلی: دموسی علیه السلام قوم په یو اویا(۷۱) فرقوویشل شول. چی اویا فرقی یی دوزخ اویوه یی جنت ته ځی. اودعیسی علیه السلام قوم دوه اویا(۷۲) فرقی شول چی یواویا فرقی دوزخ او یوه یی جنت ته ځی. اوزما امت به دری اویا(۷۳) فرقی شی ، چی یوه یی جنت اودوه اویا یی دوزخ ته ځی.

یارانو وپوښتل یارسول الله! دایوه فرقه کومه ده؟ وویل: جماعت(جماعت، جماعت) سواد اعظم ده. څرنګه چی رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی: لَا تَجْتَمِعُ اُمَتِی عَلی الضَّلالَه. وویل : زما امت به هیڅکله په ضلالت کی ونه لویږی. اودسواد اعظم علامت اونخښه داده : چی دی دوی په دی ۶۲ مسئلو چی یادون یی وشو ټینګ وی،ترڅو دسنت اوجماعت په لاره اوسی اوله بدعت اوهوا څخه لیری وی.

او دا دوه شپیته مسئلی په دی خصلت کی دی:

اول: داچی مومن په خپل ایمان کی په شک کی نه اوسی.

دوهم: دمسلمانانو دجماعت مخالف دی نه اوسی.

دریم: دهربد اوښه پسی دلمونځ وکړی.

نوربه په تفصیل سره بیان شی. اوس راغلو له اجمال څخه وتفصیل ته: